


# د کوشنیوالي خواږه ملګري

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

**پیخلیک:** غــویی ۱۴۰۴ لـېږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

## لیکي پوهه:

**سرلیک:** سيدو او عيدو
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډیټور:**
**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - غویی / کال ۱۴۰۴
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پخښتئ............................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحيم ..................................................................... ۲**
**ليکي پوهه:............................................................................... ۳**
**لړليک ................................................................................. ٤**
**تراڼ (پيل، شروع، بريد)................................................................... ٥**
**د يادښتونو له پاره:........................................................................ ٧**
**ناانډوله (ناول، کېسه يا داستان) ......................................................... ۸**
**د چاپ شويو کتابونو لېست.............................................................. ٦٥**
**د کار لاندې کتابونو لېست ............................................................. ٦۸**
**د امکان او وخت په صورت کې........................................................ ٦۹**
**د پخښتئ څټ ........................................................................... ۷۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.......................................................................

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يو بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره شريکه کړم. زما د کتابونو مېنه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.....................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یادښتونو له پاره:**

۱- ..............................................................................

۲- ..............................................................................

۳- ..............................................................................

۴- ..............................................................................

۵- ..............................................................................

۶- ..............................................................................

۷- ..............................................................................

۸- ..............................................................................

۹- ..............................................................................

۱۰- ..............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان)

په پخوا پېر یانی (یعنې) د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په پاچاهۍ کې دوې ملګري وو.

د هغوی نومونه په لاندې ډول وو:

۱- سید محمد مشهور په سیدو

۲- عید محمد مشهور په عیدو

د نوم لنډونه د کوشنیانو له پاره په نورو ژبو او هېوادونو کې هم دود دی.

اما غوره ده چې زمونږ او نورو اسلامي هېوادونو کې نومونه په بشپړه توګه و ویل شي، ښه به وي.

ځکه زمونږ او نورو اسلامي هېوادونو کي نومونه د دین او ډېری یې د قرآنکریم نه اخیستل شوي دي، چې په لنډولو یې مانا (معنی) کې توپیر راځي.

هغوی د اوومې سیمې (ناحې) په یوې کوشنۍ سیمې کې ژوند او د کوشنیتوب خواږه ملګری وو.

د یوه کور یې د پوخ سړک نه په ښي او د بل کور یې د پاخه سړک نه په کیڼ خوا کې شتون درلود.

دواړه ډېر ساده او منځني ژوند خاوندان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.......................................................................

دسیدو پلار د کروندګرو مشر او په سیمې کې به یې اوبو د وار وېشلو (میرآو) دنده تر سره کوه.

د عیدو پلارخټګر و.

دوی دواړه په لمړي ټولګي کې سره بلد او په یوه ورځ یې پر لوست پیل کړ.

سیدو په لیک او لوست کې تر عیدو تکړه و.

څو کاله یې د کورونو سره نږدې ښونځی کې سبق و وایه.

دوی دواړه  به د یوه میز تر شا او په یوې اوږدې څوکۍ کیناسته.

د هغه وخت څوکۍ او مېزونه د کونړ(کنړ) د نښترو ونو لرګیو او تختو نه جوړ شوې ول.

میز به یې هم اوږد او د اوږدې څوکې سره ښنول شوي و.

مېز او څوکې د دوو کسانو له پاره جوړ شوي و.

د ښونځې الکانو نه شوی کوی چې مېز او څوکۍ له ځایه پورته او یا یې له یوه ټولګي نه بل ټولګي ته یوسي.

دوی دواړه به خوا پر خوا کېناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدو او عيدو

.....................................................................

ډېرى ښونكو به سوچ كوه چې سيدو او عيدو سره ورونه دي، د هغوى څېرې يو بل ته ورته نه وې، مګر جګوالى او اندامونه يې يوه بل ته سره ورته و.

هغوى به په تشو ګړيو كې سره كيسې كوې.

دا راز هغوى تر درېيم ټولګي پورې سره يو ځاى او كورونو ته نږدې ښوونځي كې سبق و وايه.

درې كال وروسته ښوونځي د هغه ځاى نه لرې كډه وكړه او د هغوي د كورونو نه دوې بس تم ځاى ( د موټرو دوې ايستګاه ) لرې شو.

دوى بله لار نه درلوده او اړين وو چې هماغه ښوونځي ته لاړ شي.

هغوى دواړه به له كوره وختي وتل او په پاخه سړک كې به يوه بل ته درېدل (انتظاركوه)، بيا به سره يو ځاى كېدل او په ګډه سره به ښوونځي ته تلل.

هغوى به له ځانه سره لږ وچه ډوډۍ د ښوونځي په كڅوړه كې راوړه، د تفريح په وخت كې به تر ونو لاندې په پوله كيناستل او وچه ډوډۍ به يې خوړه.

وروسته به د اوبو لوى لوښي ته تلل چې اودان (آبدان) نومېده، چېرې چې څو دانې اودانونه الكانو د اوبو څښلو د پاره تر ونو لاندې ايښودل شوي وو، تر څو ترې په اوسپنيز جامونو كې اوبه و څښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د اوبو ښنلو نه وروسته، بېرته خپل ټولګي ته تلل.

درې میاشتې وروسته د هغوې ټولګي ته یو بل الک هم د کندز له ښار نه بدل (سه پارچه راوړه) شو.

د هغه نوم عارف و.

هغه به په ټولګي، ښوونځي کې ورو، ورو لکه زرکه ګرځېده او الکانو پرې نوم کوک (کبک، کهلک) کېښود.

نورو الکانو هم نومونه درلودل لکه:

طاهر - ټینګو

فیض - کلمبه (کولمبه)

اسد - سرخه

قیوم - دراز

داد خدا - موفره

اشرف - دهن کج

نبی - بچه حاجي

قیوم - کله ګلپي

صبور- بوله

فرید - قیچ

ولی - چایجوش

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

فرهاد - چپلي

نبي - چپ

فرید - لنګ

افراز - چلی (چړي)

ودود - سوخته

رحیم - هېڅ

موسی - تنبل

آصف - فوتبال

بشیر – ګاو

خیر محمد – خرګوش

زلګی - پطرول

یما - آتش

قدوس - شتر

موسی - سپل پای

نجیب – چونته

حارث - ګیریانوک

او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدو او عيدو

.....................................................................

ټول ټولګیوالو به سره په ښه توګه ژوند او خپل سبقونه ویل.

سیدو او عیدو به کله نا کله د یوه او بل کورونو ته تلل، البته به یې د یوه او بل نه سبکونه (سبقونه) زده کول.

څه وختونه تېر شو او هغوی تر شپږم ټولګي پورې یوه ځای سبکونه (سبقونه) و ویل.

هغوی دواړو شپږم ټولګی په بریالیتوب سره تر سره کړ، هغوی اړین وو تر څو د اووم ټولګي شاملېدو له پاره د کانکور آزموینه ورکړي.

د شپږم ټولګي نه د خلاصېدو او په اووم ټولګي کې د شاملېدو د کانکور اساسي موخې په لاندې ډول وې:

۱. که څوک د کانکور په آزموینه کې بریالی کېږي، کولای شي اووم او د هغه نه پورته خپلو زده کړو ته پایښت (دوام) ورکړي.

۲. که څوک د کانکور په آزموینه کې بریالی نه کېږي، کولای شي لیک او لوست پرېږدی او یا هم په نورو لنډ مهاله مسلکي (حرفوی) ښوونځیو ته پایښت (دوام) ورکړي.

چې په پایله کې ترې خټګر، ویلډر، ترکان، رنګریز، نرس، د موټرو مستري، کالي ګنډونکی، مسګر او داسې نور تخنیکران ترې بشپړ(خلاص، فارغ) شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدو او عيدو

.................................................................................

هغوی دواړو به زيار باسه تر څو په کانکور کې بريالي شي، خپل سبکونه پر مخ بوزي، چې په راتلونکي کې اېنجينېران شي، د خپلو کورنيو لاس نيوی او هېواد ته ګټه ورسوي.

د کانکور د آزموينی پېر(وخت) ورسېد.

ټولو د ګډون له پاره د آزموينې کارټونه تر لاسه کړل.

يوه اونۍ وروسته د کانکور د آزموينې نېټه او ځای و ټاکل شو.

د هغوی د آزموينې ځای په اوومه سيمې کې د محراب الدين ښوونځی و.

هوا سړه او د ليندی د مياشتې پنځه لسمه نېټه وه.

هغوی دواړه وختي له کوره و وتل.

د سړک پر غاړه سيد د عيدو په انتظار ولاړ و.

عيدو هم ورسېد.

دواړه په پښو د ټاکلي ښوونځي خوا ته روان شوو.

په لاره کې عيدو، سيدو ته و ويل:

که پوښتنې سختې وي ، څه به وکړو؟

سيدو و ويل:

نه پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا عیدو و ویل:

کېدای شي الته هم ځنګ پر ځنګ کښېنو او یو د بل سره د سوالونو په ځوابونو (حلولو کې ) مرسته وکړو؟

سیدو و ویل:

نه!

ګمان نه کوم.

دلته ټول زمونږ ښونکی وو.

هغوی هم چېرې مونږ مرستې (نکل، نقل) ته پرېښودو.

کیدای شي دلته نور ښونکي وي.

عیدو و ویل:

وګورو!

که امکان وي، یو بل سره به مرسته وکړو.

سیدو و ویل:

سمه ده.

بیا هغوی په منفي اړخونو بحثونه پیل کړل او ویې ویل:

که بریالی نه شو، څه به وکړو؟

مونږ پلان لرو چې اېنجینېران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

ترکانۍ او داسی نورې حرفې (دندې) خو بې زده کړې کسان هم مخ ته وړي.

بیا سیدو زیاته کړه.

زما پلار به راباندې په غصه شي او ما به له کوره و باسي.

په خبرو خبرو کې هغوی ټاکلي ښوونځي ته ورسېدل.

د ښونځي په دروازه کې ټاکلو (موظفو) کسانو د هغوی نه د آزموینې د کارتونو پوښتنه وکړه.

هغوی خپل کارټونه و ښودل او موظفو کسانو هغوی ته د ننوتو اجازه ورکړه.

هغوی ښونځي انګړ ته د ننه شوو.

په انګړ کې یې مېزونه او څوکۍ و لیدې.

ډیر خپه شوو او و یې ویل:

دلته بل رنګ آزموینه ده.

بیا یوه ښونکي ته نږدې شوو او د هغه څخه یې پوښتنه وکړه:

آزموینه څه وخت پیلېږي؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځنډ وروسته.

بيا ښونکي زياته کړه.

تر څو چې ټول زده کوونکي راټولېږي، تاسو کولای شئ لمر ته انتظار وکړئ.

هغوی د ښونکي خبره ومنه او لمر ته دانګړ په يوې سيمې کې کښېناستل.

څه وخت تېر شو.

ښونکي او زده کونکي راټول شوو.

په ښوونکو کې د هغوی د ښوونځي ښونکي نه په سترګو کېدل.

بيا چورک (شپېلی) وشو او الکانو ته و ويل شو چې دې هر ټولګي زده کونکی دي په جلا، جلا ليکه کې ودرېږي (پيل شي).

په هره ليکه کې دوې، دوې زده کونکي بايد خوا په خوا ودرېږي.

الکانو ومنه.

هر څوک د خپلو ټولګيوالو سره په ليکو کې ودرېدل.

بيا عيدو او سيدو هم خوا په خوا د خپل ټولګيوالو په ليکه کې و درېدل.

الته څو سر ښونکي هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

هغوی به نورو ته لارښوونې کوې.

بیا د کانکور د آزموینې مسول، ښوونکو ته و ویل:

ژر، ژر الکانو ته لارښوونه وکړئ، تر څو پر مناسبو ځایونو کښېنې.

زده کونکي د ښونکو لارښوونو پر بنسټ په ټاکلو ځایونو کېناستل.

بیا د ښونکو له خوا، زده کونکو ته د کانکور د آزموېنې سوالونه ورکړل شو.

او هغوی ته و ویل شو.

- ښې خوا ته کتل ۱۰ نمرې کمېږي.
- کیڼ خوا ته کتل ۱۰ نمرې کمېږي.
- څټ خوا ته کتل ۳۰ نمرې کمېږي.
- مخ کس ته اشاره او یا د هغه پام، بلې خوا ته اړول ۵۰ نمرې کمېږي.

بیا سر ښونکو و ویل:

اله ژر په ځوابونو(حلولو) پیل کړئ.
هوا سړه ده.
زده کونکو د سوالونو پر ځوابونو(حلولو) پیل کړ.
د سیدو او عیدو ځایونه هم لرې او په جلا، جلا لیکو کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................

هغوی نه شو کولای یو بل سره مرسته او یا هم یو بل ته نکل ورکړي.

سیدو او عیدو په لمړي کې خپل اسانه پوښتنې ځواب (حل) او بیا هغوی د ستونزې (سختې) پوښتنې حل کړې.

سیدو د سترګو لاندې خپل ملګري ته کتل چې څرنکه پوښتنې ځوابوي(حلوي).

عیدو به کلم (قلم) واخیست او د ځوابونو خوا ته به یې و څرخاوه، پر کوم ځواب به چې د کلم څوکه ودریده، د هغه ځواب نه به یې کرښه راتاوه کړه، بیا به بلې پوښتنې ته، ته.

څه وخت تېر شو.

د آزموینې لوی لاربنود غږ کړ:

الکانو!

پوره لس د کیکې وخت لری، تاسو کولای شئ خپل ځوابونه بشپړ کړی او لس دکیکو نه به ورسته، ښوونکي ستاسو د آزموینې پارچې راټولې کړي.

لس دکیکې پوره شوې او ښوونکو د پارچو په راټولولو پیل کړل.

پارچې ټولې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو
.......................................................................

بیا د آزموېنې لوی آمر و ویل:

ستاسو د کانکور د آزموینې پایله به بلې اونۍ کې څرګنده شي.

تاسو کولای شئ خپلو ښوونځیو ته لاړ او خپلې پایلې الته تر لاسه کړئ.

تاسو ټولو ته ښه چانس غواړم.

په مخه مو ښه.

اونۍ پوره شوه او ټول زده کونکي خپلو ښوونځیو ته لاړل.

الته  د کانکور د آزموینې پایلې د مدیر د دفتر په شیشو زوړندې شوې وې.

سیدو او عیدو دواړه سره یو ځای او خپل ښوونځي ته لاړل.

الته یې د کانکور د آزموینې پایله ولیده.

هغوي دواړه توانېدلي وو چې په آزموینې کې بریالي شي.

هغوی بیا سرښونکی ته لاړل او د هغه څخه یې پوښتنه وکړه:

مونږ څه وخت کولای شو منځني ښوونځي ته لاړ شو؟

د مونږ له پاره د محراب الدین منځنی ښونځی مناسب دی، هیله لرو چې مونږ الته ور وپېژنئ.

سر ښونکي و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو سوچ مه کوئ.

مونږ د تاسو د ښوونځي له پاره لمړنی نه منځني ته لوړولو د معارف محترم وزارت ته وړاندیز کړی دی، هغوی مونږ سره ژمنه کړې ده تر څو دا ښوونځی د لمړني نه منځني ته لوړ کړي.

تاسو کولای شئ یوه میاشت وروسته راشئ او پوښتنه وکړئ.

میاشت تېره شوه.

سیدو او عید دواړه ښونځي ته لاړل، الته یې بیا د سر ښونکي نه پوښتنه وکړه.

سر ښونکی و ویل:

تاسو ته زېری لرم.

سیدو او عیدو وپوښتل:

څه زېری؟

سر ښونکی و ویل:

ستاسو ښوونځی د لمړني نه منځني ته پورته شو.

تاسو کولای شي دلته خپل اووم او اتم ټولګی هم بشپړ کړئ.

هغوی د دې خبرې په اورېدو سره ډېرخوشحاله شوو.

د سر ښونکي نه یې خدای پاماني واخسته او خپلو کورنو خوا روان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دوې کاله نور هم په هماغه ښوونځي کې زده کړې وکوي او بيا د حبيبې عالي ليسې ته ور وپېژندل شوو، تر څو الته تر دولسم ټولګي پورې زده کړې وکړي.

پسرلې شو.

هغوی دواړه د حبيبې په ليسې کې خپلې زده کړې پيل کړې.

هغوی دواړو د رياضي مضمون سره مينه درلوده، او تل به يې زيار باسه ترڅو د رياضي ښه کتابونه و پېري (واخلي).

هغوی به کله نا کله ښار ته تلل او د پير پلورنځيو کې به يې د رياضي، هندسې، مثلثاتو کتابونه لټول او پېرودل.

کوم کتابونه به يې چې په مناسبه بيه موندل هغه به يې پېرودل او کور ته به يې وړل.

بيا به يې د جمعې په ورځو يو د بل کورونو ته تلل او الته به يې د پوښتنو، ځوابونه حلول.

هغوی په ساينسي موضوعاتو کې، مخکښ وو.

هغوی نهم ټولګی په برياليتوب سره تر سره کړ او لسم ټولګي ته پورته (لاړل).

په لسم ټولګي کې عيدو لږ د سينما سره مينه پيدا شوه.

هغه به کله ناکله سينما ته، ته.

هغه به په سينما کې هندي فلمونه ليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو، ورو عیدو د سینما تګ سره عادت شو.

هغه به د کورنۍ نه په پټه، سینما ته، ته.

هغه د سینما معتاد شو.

کله به يې چې یو فلم ولید  د خلاصیدو سره سم به یې دهغه فلم دویم وخت (ټایم) ټکټ واخیست او  هغه فلم به یې بیا وکوت.

کله به یې یو فلم د درې ځلو د پاره هم کاته.

عیدو به ښونځي د خلاصېدو نه وروسته سینما ته، ته.

هغه د تېمور شاهي سینما سره بلد شوی او یوه نوی فلم به یې الته کاته.

کله کله به هم بهزاد سینما ته، ته.

هغه به سیدو  هم هڅاوه، چې سینما ته لاړ شي.

مګر سیدو د عیدو خبره نه منه.

هغه ته به یې ویل:

 ما ته پلار مې اجازه نه راکوي چې سینما ته لاړ شم.

دوي کاله نور هم تېر شو.

په هېواد کي ټلوېزیون په خپرونو پیل کړ.

د هغوی دواړو کورنیو د تور اوسپین تلوېزیون د پېرودلو توان نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

......................................................................

هغوی به د جمعې په شپه د ګاونډيو کورونو ته، تلل او الته به يې د هندي فلمونو ننداره کوه.

عيدو به  په لاره او ښوونځي کې د هندی فلمونو کيسې کوې.

څه وخت تېر شو.

د پخواني شوروي اتحاد پو ځونه د هغه وخت ديموکراتيک رژيم

(کمونيستی پلوي حکومت) په مرسته راغلل (يرغل وکړ) دا وخت د ژمي سړې شپې وې.

سيدو په کابل کې نه و.

هغه د خپل پلار سره د ننګرهار ولايت ته تللی و.

په کابل ښار کې د شپې مظاهرې د کمونيستي رژيم پلو او د شوروي اتحاد د نظاميانو پر خلاف پيل شوې وي.

سيدو په دې اړه نه پوهېده چې په کابل او هېواد کې څه خبرې دي.

هغه پوره شل ورځې الته پاتې شو.

بيا بېرته کابل ته راغی.

هغه په پلچرخي سيمې کې د لمړي ځل له پاره بهرني عسکر او ټانکونه وليدل.

هغه هک پک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.....................................................................

هغه یوه ګړۍ وروسته کورته ورسېد او د بهرني عسکرو د راتګ په هکله يې د کورنۍ غړو نه پوښتنې کوې.

کورنۍ او خلکو به هغه ته د پاڅونکو، د الله اکبر ویلو په لارو، کوڅو، بامونو او سړکونو کې او د پير د حکومت دزې، بمبارۍ او بې ګناه وژنو، کیسې کوې.

سیدو هک پک شو.

هغه د ځانه سره و ویل:

دا څه حال دی؟

څو ورځې چې نه وم، څومره مهمې پېښې شوې دي.

ښه ده چې زه په کابل کې نه وم.

د دزو غږونه، د الوتکوو بمبارۍ او د بې ګناه خلکو وژنه ما ته د زغم وړ نه وه.

یوه اونۍ بله تېره او ښوونځې پيل شو.

عيدو او سیدو سره بیا یو ځای، ښونځي ته په تګ پیل کړ.

عيدو به هم سیدو ته د کابل د ښار د مهمو پېښو کیسې کوې.

میاشت د ښوونځي د پیل نه تېره شوه، هرې خوا پاڅونونه ( مظاهرې، ارتالونه) په ښوونځیو کې پیل شوې.

سیدو او عیدو ته به د هغوی کورنۍ مشوره ورکوه، تر څو په ارتلو کې ونډه وا نه خلي او خپل ناپیلتوب و ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دواړو به د ارتالود ګډون نه ډډه(جلاوالی) کوه.

یوه ورځ د لوړو ټولګیو زده کونکو په ارتال لاس پوري کړ.

هغوی د نورو زده کونکو نه وغوښتل تر څو په ارتالو کې ونډه واخلي.

په دې وخت کې د لوړو ټولګو زده کونکي، د نورو ټولګیو دروازو ته لاړل او هغوی ته یې په ارتال کې د ګډون بلنه ورکړه.

بیا ټول کډونکونکي له ټولګیو نه د باندې، لمړی په دالانو بیا وروسته د ښوونځي انګړ ته کوز، غوښتل یې چې پوخ سړک ته و وځی او د نورو نږدې ښوونځیو دروازو ته لاړ او هغوی هم له ځانه سره یوځای (مل) کړي.
الکانو په انګړ کې داسې شعارونه (تکبیر) ویل:

الله اکبر!

الله اکبر!

الله اکبر!

مرګ پر شوروي اتحاد او د هغه پر ګوډاګیو.

مرګ په تېري.

مرګ پر ګوډاګي او کمونیستي دولت او داسې نور....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د پوليسو ځواکونه راورسېدل او ښوونځی يې کلابند کړ.

بيا خاص پوليس او د امنيت کسان ښوونځي ته د نويو روسي صلاح ګانو سره د ننه شوو.

هغوی پر تنکي زده کونکو د ټوپک د کونداغونو ګذارونو پيل کړ.

او الکانو ته يې و ويل:

اله ژر بېرته خپلو ټولګيو ته لاړ شئ.

هر څه مو چې په زړه کې دي د خپل ښوونځي د آمرينو، سياسي کارپوهانو او د پوليسو مشرانو سره په ناستو (جلسو) کې حل کړئ.

ستونزې مه جوړوی.

عامه ودانيو، موټرو او د خلکو ملکيتونو ته زيان مه رسوئ.

که دا کار مو وکړ، تاسو ته به سخته سزا او په پايله کې به د ښوونځي نه و شړل شئ.

سيدو او عيدو هم په ارتال کې ګډون درلود.

وروسته تر دې چې د امنيتي کسانو په سپيکرو کې غږ کړ د انګړ نه ښوونځي ودانۍ ته د ننه او بيا وروسته خپلو ټولګيو ته لاړل.

هغوي د ښوونځي کړکيو ته نږدې او د ارتال کونکو په ننداره شو.

ارتال کونکو د پوليسو خبره و نه منه او په چيغو به يې شعارونه ته دوام ورکاوه، تر څو نور امنيتي کسان راورسېدل او ټول ارتال کونکې يې کلا بند، بيا يې د هغوی په نيولو لاس پورې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

...........................................................................

هغوی به مشران او لویان نیول او موټرو کې به یې د ننه کول.

واړه او کوشنیان به یې هم نیول او بېرته به یې ټولګیو ته لېږل.

یوه ګړی وروسته د هغوی عملیات پای ته ورسېدل، بسونه ډک او د ښوونځي نه امنیتي اداروته و لیږدول شوو.

سیدو او عیدو دا ټوله ننداره په خپلو سترګو وکړه.

په ټولګي کې یې زده کونکي ډېر لږ وو، ښونکي هم ټولګیو ته د زده کونکو له ډاره نه د ننه کېدل.

د رخصتۍ پیر ورسېد.

الکانو خپلو کورونو ته، تګ پیل کړ.

سیدو او عیدو هم د ټولګي نه د باندې او مخ په کورونو یې حرکت و کړ.

هغوی د ښوونځي نه د باندې او د ښونځي په شمال لورې پوخ سړک باندې روان شوو.

په لار او پولنډ سفارت نږدې شوو، په دې وخت کې چا د سفارت د دروازې پر ساتونکو د تومانچې ( تفنګچې) ډزې وکړې.

یوه کس یې و واژه.

کس له سیمې و تښتېد.

په دی وخت کې نور ساتونکي د سفارت له انګړه و وتل.

د ټولو لارویو په درولو یې پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

څو دکیکې وروسته نور امنیتي کسان د نږدې حوزې (سیمې) نه راورسېدل او لارویو پرپلټنې ( تلاشي) یې پیل کړ.

د هر لاروی نه به یې د پېژندو اسنادو پوښتنه کوه.

هر چا چې اسناد درلودل، هغه به یې د پلټنې (تلاشۍ) نه وروسته خوشې کوه.

چا چې اسناد نه درلودل، هغه به یې الته کېناوه.

سیدو او عیدو ته هم نوبت ورسېد.

امنیتي کسانو د هغوی نه د اسنادو پوښتنه وکړه.

هغوی ورته د ښوونځي کارټونه وړاندې کړل.

امنیتې کسانو د هغوی کارتونه په زیر سره و کتل او وروسته له تلاشۍ نه یې، خوشې کړل.

په دې ورځ هغوی دواړه، کورونو ته بې وخته ورسېدل.

کورکي سیدو ته د کورنۍ غړي په غوصه شوو او ویې پوښتل:

ولې نن بې وخته راغلې؟

هغه ورته د تېر شوي ارتال او د پولنډ سفارت ته نږدې د ډزو کیسه وکړه.

بیا پلار یې و پوښتل:

عیدو چېرته و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيدو و ويل:

هغه هم زما سره و.

بيا يې وپوښتل:

تاسو ته خو به يې کوم زيان نه وي رسولی؟

هغه و ويل:

نه!

خدای فضل وکړ.

بيا پلار يې زياته کړه.

ډېر احتياط به کوئ، د ارتال په منځ کي کېدای شي امنيتي کسان وي او يا هم د مجاهدينو سلاح لرونکي وي.

که هغوی د ارتال له منځ نه پر امنيتي کسانو ډزې وکړي، په دې وخت کي به ټولو ته زيان ورسيږي.

ډېری کسان به ټپي او يا شهيدان شي.

تاسو زيار او کوښښ وکړئ تر څو ځانونه لرې وساتئ.

سيدو و ويل:

سمه ده پلاره.

هغوی به په ډېر احتياط سره ښوونځي ته تلل او راتلل.

په لاره کې به يې چا سره د سياست په اړه خبرې هم نه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت تېر شو.

هغوی دولسم ټولګي ته ورسېدل.

بیا د دولسم نه سر ته رسولو نه وروسته د دوهم کانکور آزموینې ته چمتو شوو.

دواړو به غوښتل چې اینجینېران شي.

هغوی د آزموینې کارټونه تر لاسه کړل او د ژمي په ورځو کې یې

آزموینه د کابل پوهنتون په ساینس پوهنځي کې، چېرې چې هغوی ته د آزموینې ځای ټاکل شوی و، تر سره کړه.

دوې میاشتې وروسته د آزموینې پایلې د کابل پوهنتون کې په ټاکلی ځای و زړول شوې.

سیدو پولي تخنیک انستیتوټ چه اوس د کابل پولي تخنیک پوهنتون په نامه یادیږي او عیدو د کابل تربیوی مخابراتو انستیتیوټ ته په لوړو شمېرو(نمرو) بریالي شو.

دوې اونۍ تېرې شوې.

او هغوی خپلو تعلیمي ځایونو ته لاړل او الته یې نوم لیکنه وکړه.

د عیدو انستیتیوټ په ختیځ او د سیدو انستیتیوټ په لویدیځ کې و.

هغوی په خپلو لوست پیل کړ.

سیدو او عیدو سره جلا شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.....................................................................

هغوی به په نورو ورځو کې خپلو انستیتیوټونو ته تلل او د جمعې پر ماسپښین به د یوه او بل کورونو ته، تلل.

کله به د سهار له خوا په کتاب پلورنځیو او دزاړه مالونو د خرڅلاو هټیو ته تلل او التـه به یې د مسلکی کتابونو لټون کوه.

کوم کتاب به یې چې خوښ شو، هغه به یې پېروده او د کورونو د کتابونو په الماریو کې به یې کېښوده.

کله به یې یو بل ته کتابونه د لوست له پار هم ورکول.

هغوی دواړو د کابل د ټولګټو کتابتون کارتونه هم لاس ته راوړي وو او د اړتیا په وخت کي به التـه تلل او کتابونه به یې لوستل.

کله کله به یې کتابونه د یوې میاشتي له پاره د لوستو په نیت کور ته وړل او د لوستلو نه وروسته به یې بېرته کتابتون ته سپارل.

ځینې وختونه به کابل منډوی ته تلل او التـه به تولکي ( به تول باندي) کاغذونه اخستل او له هغو کاغذونو به یې د ریاضي، هندسې او مثلثاتو د سوالونو ځوابونه موندل (حلول).
شپږ میاشتې تېرې شوې.

هغوی لمړی سمسټر په بریالیتوب سره پای ته ورساوه او دویم سمسټر ته پورته (اوچت) شوو.

سیدو په آزموینې کې لوړې نمري تر لاسه کړې.

د کابل پولي تخنیک انستیتیوټ د لایحې سره سم سیدو یې د لوړو زده کړو له پاره بهر ته ورو پېژاند ( هغه ته یې بورسیه ورکړه).

سیدو ډېر خوشحاله شو او د خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځاېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په خوشحالۍ سره کورته راغی او دا خبره يې د خپلې مور او د کورنۍ نورو غړو سره ګډه (شريکه) کړه.

د کورنۍ غړي يې هم ډېر خوشحاله شو.

دا ځکه له يوې خوا ځوانان به د دولت له خوا په جبري توګه عسکري ته نيول کېدل او بيا به هغوی به يې د جګړې ليکو ته لېږل چې د مجاهدينو سره جګړه وکړئ.

کومه جګړه چې زمونږ په هېواد تپل شوي وه.

ګټې به يې نورو تر لاسه کوې او زمونږ ځوانان به په کې د دواړو خوا وو نه شهيدان کېدل او اديرې به مو ترې ډکوې.

مور يې و ويل:

دا خو ښه زېرى دى.

ښه به وي چې دا خبره ستا د پلاره سره هم شريکه کړم.

سيدو و ويل:

سمه ده.

ورځ تېره او مازيګر شو.

د سيدو پلار له کاره راغی.

د چای د څښلو نه وروسته مور يې د هغه پلارته  دسيدو د بورسې خبره وکړه.

د سيدو پلار ډېر خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په سوچ کې ډوب شو او له ځانه سره یې و ویل:

که سیدو د لوړو زده کړو له پاره بهر ته لاړ شي، دا به له یوې خوا ښه خبره وی.

هغه به د عسکرئ او ورور وژنې له جنجاله خلاص او له بلې خوا به ښې زده کړې وکړي.

هغه به خپل ځان او هېواد ته ښه خدمت هم وکوي.

که چېرې هغه د لوړو زده کړو له پاره د هېواد نه بهر لاړ شي، په سیمې کې به ډنډوره شي چې سیدو بهر او کفري هېواد ته تللی دی.

په دې حال کې به مونږ، د ځمکې له حاصله پاتې شو او ټول حاصل به مجاهدین ځانو ته واخلي.

هغوی به پر مونږ جریمې هم کیږدي.

هغه په سوچ کې ډوب شو.

د سیدو مور پوښتنه وکړه:

څنګه په سوچ کې ډوب شوې؟

هغه د خپل د زړه خبره هغې ته و کړه.

هغه هم په سوچ کې شوه.

بیا یې هغه ته و ویل:

ته خو د اسلامي ګوند کسانو سره ښې اړیکې هم لرې.

ته د هغو نه په دې هکله مرسته واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

هغه و ویل:

دا هم ښه خبره ده.

بیا هغه سیدو راوغوښت.

هغه ته یې و ویل:

ته په دې هکله، چا ته څه مه وایه.

زه به دا خبره د خپلو دوستانو سره شریکه کړم، بیا به تا ته د پایلې په اړوند و وایم.

څه موده وروسته سیدو بیا خپل پلار ته یادونه وکړه او ویې ویل:

د انستیتیوټ کمیټه ما ته وایي چې خپل اسناد وړاندې کړم، تر څو هغوی د پاسپورټ او ویزې اسناد پروسې مخ ته یوسي.

د سیدو پلار و ویل:

ما ته دوې ور ځې نور هم وخت راکړه.

زه به درته احوال درکړم.

سیدو و ویل :

سمه ده پلاره.

دوې ورځې تېرې شوې.

د سیدو د پلار ملګري هغه ته و ویل:

دا په دې مانا ده چې پسه، لېوه ته په یوې دښتې کې و وایې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا د پلار نه پوروړی وم.

اوس کولای شې خپل د پلارپور له ما نه واخلې.

ښه به دا وې چې:

دا خبره پټه و ساتې، کله چې کومه ستونزه منځ ته راغله بيا ما ته و وايه، زه به ورته ښه لار و مومم.

د سيدو پلار خوشحاله شو او د خپل ملګري نه يې مننه وکړه.

هغه مازيګر کور ته راغی.

خوشحاله ښکارېده.

ښځې يې و ويل:

څنګه نن خوشحاله ښکارې؟

هغه و ويل:

لږ څه روښنايي پيدا شوه.

هغې و پوښتل:

په کومه اړه کې؟

هغه و ويل:

د سيدو په اړه.

هغه هم خوشحاله شوه.

څه ځنډ وروسته سيدو د عيدو له کوره راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.....................................................................

هغه و لید چې مور او پلار یې په خبرو بوخت دي.

څه یې و نه ویل او بېرته انګړ ته لاړ.

البته د ګلانو په اوبو کولو بوخت شو.

لږ ځنډ وروسته پلار یې له کوټې نه را و وت او هغه ته یې غږ کړ.

سیدو پلار ته نږدې او هغه ته یې سلام واچاوه.

هغه دسیدو سلام ته وعلیکم و ویل:

بیا یې زیاته کړه.

ته د خپلې د بورسې په هکله د خپلې مور نه دې پوښتنه وکړه.

ما هغې ته خپلې فیصلې و یلي دي.

سیدو کوټې ته د ننه شو.

مور ته یې سلام واچاوه.

هغې سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا مور یې ورته و ویل:

زه او ستا پلار په دې هکله کومه ستونزه نه لرو.

ښه به وې چې دا خبره پټه وساتو.

هغه و پوښتل:

کولای شم چې دا خبره د عیدو سره شریکه کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

هغې و ویل:

هو!

کولای شې!

هغه هم لکه ستا د ورور په شان دی.

خو!

هغه ته به وایې چې دا راز پټ وساتي.

هغه و منه.

سبا مازیګر د عیدو کور ته لاړ او هغه ته یې د خپل د پلار او مور راضي کېدلو په هکله و ویل.

بیا یې زیاته کړه.

مور او پلار مې و ویل:

عیدو د بورسې په هکله خبر کړه.

خو!

هغه ته و وایه تر څو هیچا ته به په دې هکله څه نه وایې.

عیدو و ویل:

سمه ده.

زه به هیچا ته په دې هکله څه و نه وایم.

پر ما باور وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.....................................................................

سیدو و ویل:

پوهېږم وروره.

بیا سیدو و ویل:

ځو ورځې وروسته زه بازار ته ځم او د سفر له پاره څه شیان اخلم.

عیدو و ویل:

زه هم در سره ځم.

زه به د شیانو په اخستلو او جګړو کې مرسته وکړم.

سیدو و یل:

سمه ده.

دوی ورځې تېرې شوې.

عیدو د سیدو کور ته راغی.

سیدو او عیدو په خپلو کې پلانونه جوړ او هوډ یې وکړ تر څو د جمعې په ورځ ښار ته لاړ او په منډه یې کې خپل د سفر اړین شیان وپېرې.

عیدو د چای د څښلو نه وروسته د سیدو سره خدای پامانی وکړه او د کوره و وت.

شپه تېره او سهار شو.

سیدو د سها د چای څښلو نه وروسته د خپلې مور نه څه پیسې واخیستې او د کوره د باندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدو او عیدو

.......................................................................

لمړی د عید کور ته لاړ او د انګړ دروازه یې وټکوه.

عیدو دروازې ته راغی او سیدو ته یې د کور د ننوتلو غوښتنه وکړه.

سیدو و ویل:

مننه کوم.

ښه به وي چې ښار ته لاړ شو.

عیدو و ویل:

ته دلته لږ انتظار شه!

زه به خپله کرتۍ واغوندم او څه پیسې به له خپلې موره هم واخلم.

سیدو و پوښتل:

ته په پیسو څه کوې؟

هغه و ویل:

زه ورته اړتیا نه لرم.

خو!

کېدای شي په کار شي.

سیدو وخندل او ویې ویل:

زما سره په کافي اندازه پیسې شته، سوچ نه کوم چې ورته اړتیا پیدا شي.

عیدو و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دري ژبه کې یو متل دی چې وایي.

داشته به کار آید.

سیدو وخندل او ویې ویل.

سمه ده.

ژر راشه!

عیدو و ویل:

سمه ده!

عیدو کور ته د ننه شو خپله کورتۍ (کرتۍ) یې واغوسته او څه پیسې یې له خپلې مورې هم واخیستې.

بیا د کوره د باندې او د سیدو سره مخ پر پاخه سړک روان شو.

هغوی د ښاري موټرو تم ځای ته لاړل او د بس په انتظار شوو.

څه موده تېره شوه.

ملي بس راورسېد.

سیدو او عیدو بس ته پورته (وختل) شوو.

بیا عیدو سیدو ته په غوږ کې و ویل:

په جبو(جیبو) دې پام کوه.

هغه و خندل او عیدو ته یې و ویل:

ته هم پام کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................

لږ ځنډ وروسته هغوی ښار ته ورسېدل.

له ملي بس نه کوز او منډیې ته د ننه شوو.

سیدو خپل لېست له جبه را و وېست او د شیانو په اخستنه یې پیل کړ.

عیدو به سیدو سره د نرخ په جګړو او پیسو شمېرنې کې مرسته کوه.

سیدو به شیان پېرودل او عیدو به په یوې لوې کڅوړه کې اچول.

هغوی ډېری برخه شیان و پېرل.

بیا یې لېست ته وکتل.

یوه کرتۍ او یوه څرمن بکس په لېست کې پاتې ول، نور ټول شیان یې اخستي ول.

بیا هغوی فروشګاه (فروشګاه بزرګ افغان) ته د ننه شوو او کرتۍ یې هم واخسته.

هغوی بیا د څرمن بکسونو هټۍ ته ننوتل او یوه ښکلی بکس یې هم خوښ کړ.

بیه، بقاله یې ډېره وکړه.

د بکس بیه دوې زره افغانۍ وې.

سیدو خپل جب ته لاس تر څو پیسې وشمېري.

هغه پیسې وشمېرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې پیسې ۹۰۰ افغانۍ پاتې وې.

بیا یې ټول جبونه ولټول.

۸۰ افغانۍ یې نورې هم پیدا او د هغو پیسو سره یې یوځای کړې.

هغه ټول جبون په ځیر سره و لټول.

خو!

څه یې پیدا نه کړل.

بیا یې هټیوال ته و ویل:

زه به در ته ۵۰۰ افغانۍ بیانیه درکړم، بیا به سبا نورې پیسې راوړم او بکس به درنه واخلم.

اوس زما سره پیسې نه شته.

به دې وخت کې عیدو و ویل:

یوه ثانیه صبر وکړه.

ما هم له کور نه څه پیسې اخیستي دي.

هغه هم د خپل جب نه پیسې را و وېستې.

بیا هغه یې وشمېرې.

د هغه پیسې ۱۵۰۰ افغانۍ وې.

هغه یې ټولې سیدو ته ورکړې.

سیدو د هټیوال پیسې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

بيا دواړه د هټۍ په يوې برخې کې کيناستل.

ټول شيان يې په څرمن بکس کې ځای پر ځای کړل.

بيا يې د هټيوال نه مننه او خدای پاماني واخسته او له فروشگاه نه و وتل.

وخت غرمه او دواړه وږي شوي وو.

سيدو عيدو ته و ويل:

زه خو ډېر وږی شوی يم.

ته څنگه؟

عيدو و ويل:

زه هم.

سيدو ويل:

ودرېږه!

د جب پيسې وشميرم چې څومره پاتې دي؟

عيدو و ويل:

د ټکسي خو کيږي.

ته سوچ مه کوه.

سيدو پيسې وشمېرې.

۴۸۰ افغانۍ پاتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدو او عيدو

.......................................................................

بيا يې عيدو ته و ويل:

پيسې ډېرې دي.

لمړی به هوټل کې ډوډۍ وخورو او بيا به کور ته لاړ شو.

عيدو و منه.

هغوی د پاخه سړک نه تېر شو او د فروشګاه مخ رستورانټونو ته لاړل.

پخوا وختونو کې د فروشګاه مخې ته خورا ډېر رستورانټونه ول.

او له هر يوه نه د هندی سندرو غږونه راتلل.

عيدو چې د هندي سندرو شوقي و،د سيدو خبره يې ومنه.

دواړه يوه رستورانټ ته د ننه شوو.

عيدو د لاس منځلو نه وروسته سيدو ته و ويل:

راځه د هغه تلويزيون ته مخامخ کېنو.

سيدو و منه.

هغوی بکس هم ځانته نږدې کېښود.

بيا يې د قابلی پلو فرمايښت ورکړ.

لږ ځنډ وروسته پلو د سالند، قورمې سره ورسېد او دواړه په خوړلو پيل کړ.

عيدو به يوه مړۍ اخسته بيا به يې تلويزيون ته کتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ډوډۍ وخوړه.

سیدو پیسې ورکړې او د رستورانټ نه دباندې شوو.

بیا یې تکسي ته لاس ورکړ.

عیدو د تکسي له چلونکوي سره خبرې وکړې.

هغه د سیدو د کور پته ورکړه.

چلونکې و ویل:

تر نوموړي ځای پورې په ۸۰ افغانۍ.

عیدو و ویل:

مونږ هر وخت په ۶۰ افغانۍ ځو.

چلونکي و ویل:

نن د جمعې ورځ ده او له هغې خوا بېرته، تش راځم.

بیا عیدو و ویل:

خیر!

نه ستا خبره او نه زما خبره.

۷۰ افغانۍ در کوو.

چلونکي ومنه.

بیا عیدو غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټرډاله خلاصه کړه چې بکس په کې کېږدو.

چلونکي ډاله خلاصه او عيدو بکس په ډاله کې کېښود.

بيا ډاله يې وتړه او دواړه په موټر کې کيناستل.

چلونکي په لاره کې سياسي کيسې پيل کړې.

عيدو و ويل:

مونږ زده کونکي يو.

په سياست نه پوهيږو، ښه به وي چې په دې اړه خبرې و نه کړو.

چلونکی و منه او څه يې و نه ويل.

څنډ وروسته هغوی د سيدو کور ته ورسېدل.

د سيدو کشر ورور په لوبو بوخت وو.

سيدو او عيدو له ټکسي کوز(کښته) بيا يې بکس هم کښته کړ.

د سيدو کشر ورور بکس واخست او کور ته يې د ننه کړ.

سيدو د چلونکي پيسې ورکړې او هغه ببړته مخ په ښار روان شو.

سيدو او عيدو هم کور ته د ننه شوو.

الته يې څه دمه وکړه او چاى يې هم وڅښه.

لږ څنډ وروسته هغوی دواړو ټول کالي د ليکل شوي لېست سره پرتله کړل ترڅو، څه پاتې نه وي.

هغوی ټول شيان اخستي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه پاتې نه ول.

بيا عيدو د سيدو نه پوښتنه وکړه:

څه وخت په خير حرکت دی؟

سيدو و ويل:

تر اوسه څرګنده نه ده.

زه تا ته يوه ورځ د مخه خبر درکوم.

سيدو به هره ورځ پولې تخنيک انستيتيوټ ته، ته او الته به يې د ټاکلي مسول نه د تګ وخت پوښتنه کوه.

يوه اونۍ تېره شوه.

سيدو بيا د پوښتنې له پاره ټاکلي کس دفتر ته لاړ.

کس ور ته و ويل:

تا ټول خپل معاينات بشپړ کړی دي؟

سيدو و ويل:

هو!

بيا يې و پوښتل:

کالي دي هم چمتو دي؟

هغه و ويل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

بیا یې و ویل:

د دوشنبې په ورځ سهار په اوو بجو د کالیو سره هوایی ډګر ته لاړ شه.

ستا او د نورو زده کونکو الوتنه تر سره کیږي.

سیدو وپوښتل:

کولای شم له تاسو نه خپل پاسپورت واخلم؟

هغه و ویل:

نه**!**

ستاسو پاسپورتونه او ویزې د هوایي ډګر په ترمینل کې یوه ګړۍ مخکې له الوتنې نه درکول کیږي.

بیا هغه و ویل:

که چیرې مونږ هوایې ډګر ته لاړ شو او پولیس پوښتنه وکړي چې ته چیرته ځې؟

زه ورته څه و وایم؟

هغه و ویل:

کومه ستونځه نه شته.

د هوایې ډګر په لمړۍ دروازه کې ستاسو لپستونه شته.

پولیس به ستاسو نه ستا نوم، د پلار نوم د الوتنې نیټه پوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به ورته ځواب ورکړي.

همدا راز زمونږ د پوهنتون يوه کس به هم، البته وي.

که چيرې کومه ستونزه وي، هغه به مونږ ته ټيلفون وکړي.

مونږ به په څو ثانيو کې ستونزې حل کړو.

سيدو خوشحاله شو او د هغه نه يې مننه وکړه.

بيا يې د هغه نه خداى پاماني واخسته او د انستيتيوت نه د باندې شو.

لمړى په بريښنايې بسونو کې و خوت او د ښار مرکز( ده افغانانو) سيمې کې له بس نه ښکته شو.

لږ اخوا لاړ او خپلې سيمې په ملي بس کې کيناست او کور ته لاړ.

هغه خوشحاله ښکاريده.

شپې يې خپلې الوتنې د نېټې وخت څرګند کړ.

کورني يې له يوې خوا خوشحاله او له بلې خوا چې له هېواد او کورنۍ نه لرې کيږي، خواشينې شوو.

شپه تېره او سبا شو.

سبا مازيګر د عيدو کور ته لاړ او هغه ته يې د الوتنې د نېټې په هکله معلومات ورکړ.

عيدو هم د يوې خوا خوشحاله او د بلې خوا خپه شو.

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

زه هم ستا سره تر هوایي ډګرپورې ځم.

سیدو مننه وکړه او د چای د څښلو نه وروسته د عیدو له کوره و وت او خپل کور ته روان شو.

ټاکلی وخت ورسېد.

عیدو سهار وختی د سیدو کورته لاړ او الته دواړو د سهار چای یو ځای و څښه.

بیا سیدو و یل:

زه به د کورنۍ سره خدای پاماني وکړم، بیا به له کوره و وځو.

عیدو و ویل:

سمه ده.

سیدو د انګړ برنډې ته لاړ.

الته ټوله کورنۍ یې د هغه د خدای پامانۍ له پاره ولاړ وو.

هغه د کورنۍ ټولو غړو سره خدای پاماني وکړه او بېرته د میلمه کوټې ته راغی چې د انګړ په بلې خوا او لوې دروازې سره جوخت و.

عیدو بکس واخیست او له انګړ نه د باندې شو.

د سیدو مور هغه پسی اوبه وشیندې.

هغوی لمړی پاخه سړک بیا هوایې ډګر ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډګر په لمړۍ دروازه کې پولیسو له هغوی نه پوښتنی وکړې او و ویی ویل:

کولای شو ستاسو پاسپورټونه او ویزې و ګورو.

سیدو و ویل:

زمونږ پاسپورټونه د زده کړیالانو د مسول کس سره دي اومونږ ته یې د الوتنې نه یوه ګړۍ د مخه راکوي.

یوه پولیس و ویل:

تاسو دواړه زده کړیالان یاست؟

سیدو و ویل:

هو!

مونږ دواړه زده کړیالان یوو، خو زه الوتنه لرم او زما ملګری زما سره، تر ترمینله ځي.

پولیس و پوښتل:

نوم دې څه دی؟

هغه و ویل:

سید محمد.

پولیس د هغه نوم په لېست کې وموند او بیا یې د هغه د پلار نوم پوښتنه وکړه.

هغه ورته سم ځواب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا پولیس و ویل:

سمه ده!

تاسو کولای شئ، مخ ته لاړ شئ.

هغوی وړاندې تلل او پولسیو به د هغوی نه د اسنادو پوښتنې کوې.

تر څو هغوی ترمینل ته ورسېدل.

دواړه ترمینل ته د ننه شو.

الته پولیس سیدو ته و ویل:

بکس دې دلته پر میز کېږده تر څو مسول کس یې ولټوي.

هغه بکس پر میز کېښود او مسول کس پر لټون پیل کړ.

بیا کس و ویل:

کومه ستونزه نشته.

کولای شې خپل بکس د آریانا افغان هوایي شرکت کتنځای ته وړاندې
تر څو هغوی یې ټاکلي الوتکې ته د ننه کړي.

هغه خپل بکس ټاکلي ځای ته یووړ او مسول کس ته یې وروسپاره.

بیا د ترمینل لارښود و ویل:

ته کولای شې د خپل ملګري نه خدای پاماني واخلې.

هغه د عیدو نه خدای پاماني واخسته او د ترمینل سالون ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدو او عيدو

......................................................................

عيدو ته هم لاربنونه وشوه چې د الوتکې تر الوتنې پورې کولای شي د ترمينل تراس ( برنډی ) ته وخېژي او الته د الوتنې ننداره وکړي.

ځو شېبې وروسته مسافرو ته لاربنونه وشوه چې له سالون نه و وځي او ټاکلي بس ته وخېژي تر ځو الوتکې ته، لاړ شي.

سيدو له سالون نه و وت او پاس يې وکتل.

عيدو برنډې کټارې ته نږدې ولاړ و او له سترګو يې اوبنکې بهېدې.

د سيدو په سترګو کې هم اوبنکې و ځرخېدې او د عيدو خوا ته يې لاسونه وبنورول.

ټول مسافر بسونو ته د ننه شو.

سيدو هم بس ته د ننه او تر ځو يې سترګو ليد درلود د عيدو خوا يې لاس بنوراوه.

عيدو هم خپل لاس بنوراوه.

موټر د الوتکې خوا ته ورسېد.

د الوتکې سټيوردیسو مسافرو ته د ختو اشاره وکړه.

سيدو هم په خپل وار زينې ته پورته شو او مخکې د الوتکې د ننوتو نه د ترمينل د برنډی خوا يې وکتل.

کسان ولاړ بنکارېدل، مګر نه پېژندل کېدل چې ځوک دي.

سيدو خپل مخ راواړاوه او الوتکې ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ستیوردیسې هغه ته و ویل:

دېخوا راشه!

کڅوړه (بیک) دې پاس کېږده.

هغه خپل بیک پاس کېښود او ستیوردیسې هغه ته و ویل:

پر دې څوکۍ کښېنه!

هغه پر څوکۍ کښیناست.

نور مسافر هم پر ټاکلو ځایونو کښیناستل.

ټول مسافر پوره شوو.

ستیوردېسي د الوتکې دروازه وتړه.

بیا د الوتکې زینه لرې شوه.

څو ثانې وروسته الوتکه چالانه او ورو، ورو د الوتنې لیکي
(رنوې) خوا ته روانه شوه.

په دې وخت کې ستیوردیسې مسافرو ته  د ملاوستني د تړو لارښونه وکړه او ټولو ته یې و ویل تر څو خپل ملا وستني وتړي.

بیا یې نورې لارښونې وکړې.

الوتکه دالوتنې لیکې ته ورسېده او لږ ځنډ وروسته ته یې په ځغاستو پیل او له ځمکې اوچته شوه.

الوتکې دوې دورې د کابل په ښار و وهې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

بیا آسمان ته اوچته شوه.

سیدو ۷ گړې وروسته خپل ټاکل شوې ښار ته ورسېد.

هغه په درسونو پیل کړ.

سیدو به په کال کې یوه ځل د دوبې په رخصتیو کې کابل راته.

هر کله به چې کابل ته رسېده پر سبا به یې د عیدو کور ته، ته.

عیدو به هغه سره د سیدو کور ته راته.

سیدو به هغه ته عطرونه او نور شیان ډالۍ کول.

عیدو هم هغه خپل کور ته مېلمه کوه.

بیا به یې هغه د ځینو ماشومانو د لوبو فرماېښت هم ورکاوه.

سیدو به هغه ته کوچنۍ الوتکه، ریل ګاډې او نور شیان راوړل.

کله به یې د هغه نه دا پوښتنه هم کوه:

عیدو!

ته نه په خپله ماشومان لرې او نه په کورنۍ کې.

ته د لوبو په سامانوڅه کوې؟

هغه به ویل:

خدای مهربانه دی.

هر څه به وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................

خو!

داسې فرمایښتي شیان به له کومه شي.

هغه به زیاتوه.

یوه وخت په کار راځي.

درې کاله تېر شو.

عیدو له تربیوي مرکز نه د انجینېر د مرستیال په توګه، فارغ شو.

د کار موندنې هڅه یې وکړه.

جبري عسکري، هغه ته د کار کولو وخت ور نه کړ.

هغه مجبوره شو چې په یوې عسکري قطعې کې ځان ثبت کړي او جبري عسکري خدمت تر سره کړي.

هغه د عسکرۍ په دندې بوخت شو او درې کاله یې عسکري وکړه.

سیدو هم شپږ کاله وروسته له پوهنتون نه فارغ او هېواد ته ستون شو.

هغه هم کوښښ وکړ تر څو دنده تر لاسه کړي.

هغه هم و نه توانېد چې دنده تر لاسه کړي.

هغه هم د عیدو په څېر عسکري ته لاړه.

هغه د ۶ میاشتو عسکري په دونیمو کلونو کې تر سره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له څو کالونو دواړه بريالي شو تر څو په خپلو برخو کې دندی تر لاسه کړي.

يوه کال وروسته له دندو څخه په هېواد کې بدلون راغی، شوروي پلوه  حکومت لړنګ او مجاهدينو واک تر لاسه کړ.

لمړۍ دوې مياشتې د حضرت صبغت الله مجددی وار و.

بيا وروسته د استاد برهان الدين ربانی د څلورو مياشتو له پاره په پاکستان کې وار د مخه ټاکل شوی و.

څلور مياشتې تېرې شوې، او وار د ګلبدين حکمت يار ورسېد.

په دې وخت کې سيدو واده وکړ او عيدو يې هم سر خوان ( د واده د مراسمو د مصرف او ډوډۍ) مشري کوه.

د سيدو واده په خير تېر شو.

استاد برهان الدين ربانی له واک نه لرې نه شو، يوه شوراېي جوړه کړه او خپل حکومت ته يې دوام ورکړ.

په دې وخت کې کورنۍ جګړې پيل شوې.

سيدو او عيدو د خپلو کورنو نه د تايمني سيمې ته کوم چې د جمعيت اسلامي په واک کې وې، کډه شوو.

د سيدو د دندې دفتر هم خيرخانی مېنې ته کډه شو او سيدو الته خپلې دندې ته پايښت (دوام) ورکړ.

د عيدو دفتر داسلامي ګوند تر ولکې پاتې او عيدو خپله دنده له لاسه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

عيدو څه موده وروسته يوه لاسي څلور ټايره ګاډۍ واخست او پر هغه به يې د بې ځايه شويوکسانو مالونه، له يوه ځاى نه بل ځاى ته لېږدول.

سيدو او عيدو به ديوه بل کورته تګ او راتګ کوه.

دوه کاله تېر شو.

په دې وخت کې د جګړو په ليکه کې څه بدلون راغی او د هغوی سيمې د جمعيت ګوند کوم چې د دولت لاربښونه يې په لاس کې وه، پرېوتې.

عيدو بېرته خپلې سيمې ته کډه وکړه.

سيدو په هغې سيمې کې پاتې شو او کله به يې له يوه کور نه بل کور ته کډه کوه.

سيدو به په کرايي کورونو کې اوسېده.

عيدو به هم کله ناکله د سيدو ليدو ته، ته.

څو کاله نور هم تېر شو.

طالبانو په لمړی ځل په هېواد کې له کندهار نه سر راپورته کړ.

ورو، ورو يې سيمې تر لاسه کوې.

هېواد لويديځې، سويلي او ختيځې سيمې يې و نيوې.

بيا د کابل ښار دروازو ته ورسېدل.

څه و خت يې د کابل تر دروازو تېر بيا کابل ښار ته، د ننه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې سیدو د هوایي ډګر ته نږدې ژوند کوه.

مازیګر د بتخاک خوا نه د ډزو غږونه راتل او یوه څرخي الوتکه هم لیدل کېده چې له هوا نه یې راکټونه غورځول.

څه روښانه نه و، څوک نه پوهېدل چې څه خبره ده.

ماښام شو.

هوا تیاره شوه.

د ډزو غږ، نه اورېدل کېده، خو د موټرو غږونه مخ په ډېرېدو شو.

شپه تېره او سهار شو.

خلکو د لمانځه نه وروسته د خپلو راډیوګانو سره هر چېرې ډله، ډله درېدل او د تالبانو د بري کیسې به یې کوې.

سیدو هم د خپل کور مخې ته ودرېد.

دولتي عسکر نه په سترګو کېده.

د بي بي سي راډیو نطاقانو ویل:

کابل ښار اوس د تالبانو په لاس کې دی او هغوي هېواد د شمال خوا ته په مخه ځي.

خلک ټول هک پک شوي وو.

سیدو هم کور ته د ننه او وروسته د سهار د چای د څښلو نه د باندې شو.

د څو ګاونډیانو سره د هوایي ډګر سړک خوا ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................

څو شېبې وروسته سړک ته ورسېد.

په سړک کې د تالبانو پيک اپ (ډاټسنې) موټرو ګزمې کوې.

په موټرو کې تالبان ليدل کېده چې پر سرونو يې تورې لنګۍ وې.

هغوی ټولو ږيرې درلودې او چا ته يې څه نه ويل.

سيدو د نورو ګاونديانو سره په ننداره بوخت و.

په دې وخت کې يو کس له ښار خوا نه راغی او د سيدو د ګاونډيو سره يې ستړي مشي وکوه او هغه ته يې و ويل:

تالبانو د هېواد پخوانی جمهور ريس داکټر نجيب الله او د هغه ورور يې وژلي او د آريانا په څلور لاري کې يې زړولي دي.

د سيدو ګاونډي و ويل:

راځئ !

لاړ شو او خپل په سترګو يې وګورو.

دا ناشونی کار دی.

هغه د ملګرو ملتونو په دفتر کې و.

سيدو ومنه.

هغوی مخ په څلور لاري په پښو و خوځېدل.

څه ځنډ وروسته هغوی څلور لاري ته نږدې شو.

څلور لاري خوا ګڼه ګوڼه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

څه نه په سترګو کېدل.

هغوی نور هم وړاندې لاړل.

دوې کسان زوړنډ ښکارېدل.

هغوی نور هم نږدې شو.

په ګڼه ګونه کې مخ ته لاړل او ويې ليدل چې په رښتيا هغوي زوړند شوي او کالي يې په وينو رنګ دي.

د يوه په پوزه کې يې د هغه د وخت پيسې لوله کړی او د ننه کړی وې.

دا حال هېچا ته د منلو وړ نه و.

خو کار شوی و.

په سبا يې عيدو د سيدو پوښتنې ته لاړ.

هغوی د غرمې ډوډۍ په ګډه و خوړه او د چای د څښلو نه وروسته عيدو بېرته خپل کورته لاړ.

عيدو د سيدو نه وغوښتل تر څو بېرته سيمې ته ستون شئ.

سيدو و ويل:

د اوس له پاره نه ځم.

حالات کړکېچن دي.

وروسته به وګورو چې څه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختونه تېر شو.

سيدو خپلې دندې ته، ته.

عيدو له دندې پاتې او په يوه درملتون کې يې دنده تر لاسه کړه.

کال ورسته يې کوژده وکړه.

په کوژدې کې يې د سيدو کورنۍ ته هم بلنه ورکړه.

دوې کاله وروسته يې واده تيار شو.

هغه سيدو ته دوې ورځې د مخه خبر ورکړی و.

سيدو هم د خپلې ښځې او لور سره د هغه په واده کې ګډون وکړ.

عيدو به خپلې دندې ته، ته.

دنده يې مسلکي نه وه.

خو هغه اړين و چې ورته پايښت (دوام) ورکړي.

هغه په درملتون کې بلد شوی او داروګانو په نومونو او کارونوهم پوی شوی و.

هغه اوس هم په هماغه ځای کې پر کار بوخت دی.

عيدو دوې زامن لري، خو سيدو دوې ځامن او يوه لور لري.

هغوی اوس هم يو د بل سره ډېرې ښې اړيکې لري.

تګ او راتګ يې خورا لږ شوې دی.

مګر!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی په مړي او ژوندي کې یو بل خبروي او حتماً په کې ګدون کوي.

کله ناکله چې یو بل پسې خپه شي، په موبایل کې هم سره خبرې کوي.

عیدو دومره د موبایل شوقي نه دی.

کوم وخت چې وغواړي د سیدو سره په واتس اپ کې خبرې او یا هم کوم پیغام لیکې، بیا خپل مشر زوی نه مرسته غواړي.

عیدو په خپل پلارنی سیمې کې وداني، وکړه.

هغه دوې پوړېز ودانۍ د حوېلۍ په دواړو خوایې جوړه کړه.

اوس یې خپل کشر ورو ته کوژده هم کړې ده.

خپله یې د کوټې په خوا (شمال خوا ته) او کشر ورور یې د حویلۍ په سویلي خوا کې ژوند کوي.

سیدو بېرته خپلې پلارنی سیمې ته لاړ نه شو.

هغه د هوایې ډګر لورې په پیسو کور واخیست او د خپلو ماشومانو سره الته ژوند مخته وړي.

هغوی دواړه اوس هم د کوشنیوالي په شان خواره ملګري دي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................

**د چاپ شویو کتابونو لېست**

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايې
(برای اساتید اانستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامي به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارہ ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
۲. د یوې میاشتې ناوې
۳. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٤. لیونی لېوه
٥. کوشنۍ سوداګره
٦. سپین کارغه
۷. سور تنور
۸. خړه بیزو
۹. بندي مرغه
۱۰. توده بړستن
۱۱. د ژوند پای


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

1. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
2. تاریخ معماری افغانستان
3. حویلی های آسمان خراش
4. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
5. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
6. شیطان چراغ
7. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Saido & Eido

# Sweet Childhood Friends

**Writen by:** PHD Architect Hashmatullah Atmar

**Date:** March - April /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**